صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

# مُباحثات

بروز جمعہ ۱۲ فروری ۱۹۹۹ء

مطابق ۲۵ شوال ۱۴۱۹ھ

## سرکاری رپورٹ

جلد ۱۴ شمارہ ۴

N.W.F.P.

مندرجات


| مندرجات | صفحہ نمبر |
| --- | --- |
| ۱۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | ۱ |
| ۲۔ نشانزدہ سوالات اور اُن کے جوابات | ۴ |
| ۳۔ رخصت کے لئے معزز اراکین کی درخواستیں | ۳۴ |
| ۴۔ پوسٹ مارٹم ٹائمنگ پر بحث | ۳۴ |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعہ مورخہ 12 فروری 1999ء بمطابق 25 شوال المکرم 1419 ہجری صبح دس بجکر پینتالیس منٹ پر منعقد ہوا۔
جناب سپیکر، ہدایت اللہ چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ۝ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝
فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ؕ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ۝ (پارہ 21 سورۃ الروم، آیات 30 تا 32)۔

(ترجمہ) اے نبی صلی اللہ علیه و آله وسلم ته خپل مخ د دین ارخ ته ساته، یو مخیزے اوسیږه۔ د خدائے پاک په فطرت قائم اوسیږه چه اللّٰه پاک پرے بتول خلق پیدا کړی دی۔ د اللّٰه پاک پیدا کړی څیزونه بدلول پکارنه دی۔ بس دغه سم دین دے لیکن اکثر خلق نه پوهیږی۔ تاسو خپل مخونه اللّٰه تبارک تعالیٰ طرف ته اوګرځوئ، د هغه نه یره کوئ، د مونځ پابندی ساتئ او په مشرکانو کښی خان مه ورګډه وئ۔ هغه خلق چه هغوی خپل دین بتوتے بتوتے کړو او بتولی بتولی شو۔ هر یو بتولے په خپله طریقه باندے خپل خان ته غاوره دے۔

جناب بشیر احمد بلور۔ جناب سپیکر صاحب! زه تاسو ته هم خواست کوم او ستاسو په وساطت ټریژری بنچز ته هم خواست کوم چه د Monday په ورځ د باچا خان کلیزه ده نو مهربانی د اوشی چه د اسمبلئ نه په هغه ورځ باندے تاسو مونږ ته چهټی راکړئ نو مونږ به ډیر مشکور یو۔ گورنمنټ بنچز او تاسوته هم خواست کوو چه دا زمونږ Request د Accept کړے شی۔

جناب سپیکر۔ جی۔

سید منظور حسین۔ محترم سپیکر صاحب! دا اگرچه پوائنټ آف آرډرنه دے خو د دے په Cover کښې یوه اهمه خبره ستاسو په نوټس کښې راولم۔ د دے پوسټ مارټم قانون دا دے--------

(اس مرحلہ پر رکن اسمبلی جناب محمد شعیب خان جیل سے رہائی پانے کے بعد ایوان میں تشریف لائے۔)

(تالیاں)

سید منظور حسین۔ محترم سپیکر صاحب! زه جناب شعیب خان ته پخیر راغلے وایم او خپله خبره جاری ساتم---------

جناب سپیکر۔ لږ، یو منټ، تاسو هم دغه خبره کوئ دا کومه چه دوئ د چهټئ او وے او که تاسو بله خبره کوئ؟

سید منظور حسین۔ نه جی، د پوسټ مارټم متعلق خبره کوم۔

جناب سپیکر۔ چه د دے خبرے مسئله حل شی نو بیا به تاسو دا او وایئ۔

سید منظور حسین۔ ٹھیک شوه جی۔

جناب سپیکر۔ جی، د گورنمنټ د طرف نه څه جواب دے؟ انہوں نے Request کی ہوئی ہے۔

جناب یوسف ایوب خان (وزیر بلدیات)۔ سپیکر صاحب! ہمیں کوئی اعتراض نہیں ہے لیکن ہماری ایک Request ہے کہ یہ سارے، ہمارے اپوزیشن کے سب بھائی بیٹھے ہوئے ہیں کیونکہ آج بڑی Important legislation ہم لانا چاہ رہے ہیں جو اس صوبے کے Intrest میں ہے، تو Request یہ ہوگی کہ اگر آج کیلئے 'Questions' Hour' suspend ہو سکے اور آج یہ Legislation ہو جائے تو As it is agreed. ایک فارمولا کے تحت تو ہم چلیں گے لیکن It is a request if it can kindly be considered

جناب بشیر احمد بلور، د منگل په ورخ باندے چه بیا مونږ اسمبلئ ته راشو، په
هغے کښې به نے اوکړو کنه۔ په دے باندے داسے څه جلدی ده۔
جناب احمد حسن خان، سر! آج تو ہمارے بہت Important questions ہیں اور منسٹر
صاحب نے بھی تیاری کی ہوئی ہے۔ آپ ایک دو دن اور لگائیں۔
جناب سپیکر، نہیں' آپ اس طرح کیوں نہیں کرتے کہ Tuesday کیلئے سب
Request کر دیں' باقی ایجنڈا تو ہمارے ہاتھ کا کام ہے لیکن Questions' Hour کی
Suspension اگر آپ Tuesday کو کریں تو اسی دن Legislation ہو سکتی ہے'
That will be better کیونکہ Even if you suspend the rule for today even
then I am not sure کیونکہ آج آنے کے بارے میں جو Call Attention Notices
ہیں' I think that it will take a lot of time There are three/four five Call
Attention Notices on it. I think ---------
وزیر بلدیات، جناب! ہم Request کرتے ہیں کہ یہ چیزیں اگر Tuesday تک لے
جائیں اور آج صرف Legislation ہو جانے تو It is a request. just دیکھیں جی 15th
کو باچا خان صاحب کی برسی ہے اورہمیں تو کوئی اعتراض نہیں ہے' We don't have
any objection to that لیکن ہماری طرف سے بھی Request ہے اگر یہی ان کے
Questions یا Call Attentions جو بھی ہیں' بیشک آپ Tuesday تک لے جائیں'
ہمیں کوئی اعتراض نہیں ہے۔
جناب علی افضل خان جدون (وزیر قانون و پارلیمانی امور)، جناب سپیکر! پہلے تو میری یہ
گزارش ہوگی کہ اگر Suspension of rules کے تحت If you could postpone
and defer these questions for the next day. اگر نہیں ہو سکتے تو پھر یہ
گزارش ہوگی کہ It should be done as early as possible so that we. کیونکہ
اس میں ساری Legislation کو vitiate کرنا ہے' تو پھر وہ Good will کا Gesture
نہیں ہوگا تو اسلئے We should try to ---------
ارباب محمد ایوب جان، جناب سپیکر صاحب! مونږه ستاسو سره Agree کوؤ
لکه څنګه چه تاسو اووے۔ جدون صاحب هم اووے چه As early as it is
possible نو Mr Speaker Sir, we agree with you and honourable

Minister for Law also said that as early as possible, as you said, Sir

Tuesday will be a very good day for discussion Thank you, Sir

جناب سپیکر: یہ تو آپ لوگوں کا آپس کا مسئلہ ہے، مجھے تو اس پر کوئی اعتراض نہیں ہے لیکن ٹائم نکلتا جا رہا ہے۔

جناب محمد شعیب خان(ملاکنڈ)، پوائنٹ آف آرڈر، سر۔

جناب سپیکر، باچا صاحب! دوئ له به لږه Priority ورکړو۔

میاں گل اسفندیار امیرزیب(وزیر تعلیم)، جناب سپیکر صاحب! که د دے بحث په خانے باندے Questions شروع شی نو په لس منټه کښې به دا ختم شی۔

جناب محمد شعیب خان(ملاکنڈ)، جناب سپیکر صاحب! په 24 دسمبر باندے زمونږه په کلی کښې د بجلئ لوډ شیډنګ وو ------

جناب سپیکر، دا یو Request درته کوم، ما خو وے چه خالی شکریه ادا کوئ تاسو خو Details شروع کړو۔

جناب محمد شعیب خان(ملاکنڈ)، شکریه ادا کوم کنه، سر۔

جناب سپیکر: که تاسو Details شروع کوئ نو دا سے به اوکړو، زما خیال دے چه باچا صاحب او تاسو ته به هم Request اوکړم چه دا Questions ختم کړو نو بیا تاسو دا خبره اوکړئ نو دا به بهتره وی ولے چه پکار ده چه 'Questions Hour دے او په دے باندے مونږه د ټول هاؤس وخت واخلو۔

جناب محمد شعیب خان (ملاکنڈ)، جی سر، ٹھیک شوه جی خو زما خو صرف شکریه ادا کول وو۔

## نشان زدہ سوالات اور ان کے جوابات

جناب سپیکر، بس ٹھیک شوه۔ زما خیال دے د Questions' Hour نه پس نے اوکړئ۔ Honourable Akram Khan Durrani, MPA, to please ask his Question No 264

* 264 _ جناب اکرم خان درانی، کیا وزیر تعلیم از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ــــ

(الف) آیا یہ درست ہے کہ ہر ایک ضلع میں سیکنڈری سکولوں کیلئے ایک ڈسٹرکٹ ایجوکیشن

آفیسر ہوتا ہے،

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ DEOs کو سکولوں کی کارکردگی پر نظر رکھنے کیلئے دورے کرنے پڑتے ہیں، جس کیلئے سرکاری گاڑی کا ہونا ضروری ہے،

(ج) اگر (الف) و (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو صوبے کے جن DEOs کے پاس سرکاری گاڑیاں ہیں اور جن کے پاس نہیں ہیں، دونوں کی تفصیل فراہم کی جائے، نیز جن DEOs کے پاس گاڑیاں نہیں ہیں تو حکومت کب تک ان کو گاڑیاں دینے کا ارادہ رکھتی ہے،

میاں گل اسفندیار امیرزیب (وزیر تعلیم)، (الف) درست ہے۔

(ب) درست ہے۔

(ج) تفصیل درج ذیل ہے،

جن DEOs کے پاس گاڑیاں ہیں، ان میں ـــــ

DEO Peshawar (Male & Female).

DEO Mardan (Male & Female).

DEO Abbotabad (Male & Female).

DEO Mansehra (Male & Female).

DEO Bannu, DIKhan and Dir (Only Female).

DEO Swat & Malakand (Only Male)

شامل ہیں اور جن DEOs کے پاس گاڑیاں نہیں ہیں، ان میں چارسدہ، صوابی، نوشہرہ، کرک، کوہاٹ اور چترال میں DEO (Male & Female) اور بنوں، کوہستان، ڈی آئی خان، دیر، بٹگرام، لکی، ٹانک، بونیر میں DEO (Male only) جب کہ سوات میں DEO (Female only) شامل ہیں۔

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر صاحب! شکریہ۔ ما د دوئ نه غوښتنه کړے وه چه صوبه سرحد کښې څومره DEOs دی چه د هغوی سره گاډی نشته دے؟ دا مے هم غوښتلی وو چه دوئ ته تکلیف نه وی چه په دے سکولونو کښې گرځی را گرځی؟ د گاډی د عدم موجودگئ په وجه باندے د دوئ کار گران شوے دے۔ نو دوئ ما ته په جواب کښې دا ونیلی دی چه بالکل دوئ ته زیات تکلیف دے او په ایجوکیشن کښې زیات رکاوټ دے، دوئ په موقع باندے

خانے ته نه شي رسيدلے، د دے په وجه باندے د هغه سکولونو هغه معائنے نه شي کيدلے۔ ډير تکليفات دی۔ بيا ما په جز (ج) کښې دا غوښتلی وو چه هغه څومره DEOs دی چه د هغوی سره ګاډی شته دے او د څومره سره نشته دے؟ نو دوئ تفصيل راکړے دے جناب، چه په صوبه پختونخوا کښې تيره DEOs دی چه د هغوی سره ګاډی شته دے او تقريباً بيس DEOs داسے دی چه د هغوی سره ګاډی نشته دے۔ اوس د پرائمری سکولونو DEOs چه وی نو د هغوی سره هم ګاډی شته دے او ورسره چه SDEO وی نو د هغوی سره هم ګاډی شته دے۔ هغه په خپل خانے هم زيات اهميت لری خو د سيکنډری DEOs سره خو جناب هائی سکولونه، هائر سيکنډری او مډل سکولونه وی او دا په ټوله ضلع کښې خواره خواره په لويه ايريا کښې پراته وی نو هغه DEOs هلته هغه معائنے نه شي کولے او د هغے په وجه باندے هغه سکولونه خرابيږی۔ که تاسو ريزلټ اوګورئ د هر يو هائی يا سيکنډری سکول نو نتيجه ئے يا % 2 or % 1 ده او دوئ بيا ليکلی دی چه مونږه د ايس اينډ جی اے ډی نه Demand کړے دے نو دا Demand خو جناب، دوه کاله مخکښې شوے دے او د صوبائی ګورنمنټ سره خو دومره ګاډی وو چه مونږه به په اخبارکښې کتل نو روزانه به سل يا دوه سوه ګاډی نيلام کيدل او د نيلام کيدلو هم جناب، داسے طريقه کار وو، ټهيک ده چه ګورنمنټ ته به لږے ډيرے پيسے پرے راغلے وی خو دوئ سره اوس ګاډی شته دے او داسے ډير ګاډی دی چه هغه آکشن شوی نه دی۔ که دا شل ګاډی ئے ورکړے وے، محکمه تعليم يوه اهم محکمه ده او د هغے په ملک کښې او بيا خصوصاً زمونږه په صوبه کښې، چه مونږه په تعليمی لحاظ باندے ډير پاتے يو نو که دوئ دا شل ګاډی ورکړے وے، منسټر صاحب ناست دے او د دوئ سره ګاډی شته دے، اوس هم د مختلفو محکمو ګاډی ولاړ دی، که دا DEOs ته ورکړی نو دا کار به لږ ښه روان شي۔

*جناب محمد طارق خان سواتی، سر! اس پر میرا ایک ضمنی سوال ہے۔*

*جناب احمد حسن خان،* جناب سپيکر! دا يو حقيقت دے چه دے حکومت په خپله بنيادی پاليسئ کښې د اقتصادی صورتحال د ټهيک کولو د پاره بعضے پابندئ لګولے وے او په هغے کښې يوه پابندی دا وه چه سرپلس ګاډی يا زيات

ګاډی به نیلام کوو او خصوصاً وزیر اعظم صاحب پخپله هم خبره کړے وه۔ په وزراء صاحبان باندے نے هم پابندی لګولے وه خو دا بالکل Crystal clear ده چه نن هم وزراء کرام د خپل سټاف کارنه علاوه د محکمو دوه څلور، شپږ ګاډی استعمالوی۔ دا بالکل صفا، واضحه خبره ده چه کومه وزیر اعظم بنده کړے ده او کومه چه د حکومت پالیسی ده۔ نو آیا دا به ښه خبره نه وی که دغه ګاډی د هغه محکمونه فالتو وی او وزراء صاحبان او د هغوی بچی، رونړه یا د هغوی نور دوستان، خپلوان نے استعمالوی نو دا ګاډی د DEOs له ورکړی۔ ضلع دیر جناب سپیکر صاحب، په شپږ ایم پی ایز باندے مشتمل یوه ضلع ده او د هغے د سیکنډری DEO، او زه دا وایم چه هغه په صوبه سرحد کښې جناب سپیکر، په ښه DEOs کښې یو DEO دے، Efficient سړے دے، Hard working دے، پروفیشنل سړے دے، جناب سپیکر، هغه د سوات نه هره ورځ اته بجے خپل دفتر ته راځی او بیا نه اوځی ولے چه د هغه سره ګاډے نشته دے۔ دا ما د وزیر تعلیم صاحب، سیکرټری تعلیم او د ډائریکټر سیکنډری په نوټس کښې راوستے ده ۔ زه دا ضمنی سوال کوم چه آیا دوئ دغه ګاډی چه کوم وزراء یا د هغوی ورثاء او رشته دار استعمالوی، ولے دوئ DEOs ته نه حواله کوی چه د هغے نه د قومی مفادو کار واغستلے شی؟

جناب سپیکر، جناب طارق خان سواتی صاحب۔

جناب محمد طارق خان سواتی، جناب سپیکر! گزارش یہ ہے کہ ایک تو یہ گاڑیاں بہت پرانی ہیں جو ان DEOs کے پاس ہیں اور جناب، میرے ضلع میں یہ گاڑیاں مہینے میں پچیس یا چھبیس دن کیلئے ڈسٹرکٹ ایڈمنسٹریشن ان سے لے لیتی ہے۔ ایک طرف تو ہم یہ کہتے ہیں کہ ہم سکولوں میں اساتذہ کی حاضری کو باقاعدہ بنائیں گے، یہ لوگ فیلڈ میں جائیں اور جناب، مجھے DEOs نے تین دفعہ Request کی کہ ہماری گاڑیاں ڈسٹرکٹ ایڈمنسٹریشن بغیر کسی وجہ کے ہم سے لے لیتی ہے۔ وہ کہتے ہیں کہ ہمیں گاڑیاں چاہئیں اور لے جاکر ڈی سی آفس کے سامنے کھڑی کر دیتے ہیں تو اس میں میں گزارش کروں گا کہ کم از کم ایجوکیشن والوں سے ڈسٹرکٹ ایڈمنسٹریشن گاڑیاں نہ لے۔

جناب سپیکر، نجم الدین خان۔

جناب نجم الدین۔ جناب سپیکر صاحب! زما ضمنی سوال هم دے خو زه د دیر د ضلع سره تعلق لرم چه هغه ټوله غرنیزه علاقه ده۔ په هغے کښې زمونږه DEO Female and Male ، د یو سره هم گاډے نشته دے، نه په پرائمری طرف باندے شته دے او نه په سیکنډری طرف باندے شته دے۔ د هغے وجه دا ده چه نن، مخکښې ما منسټر صاحب ته، سیکرټری صاحب ته او ډائریکټر صاحب ته درخواست کړے دے، زه د دے اسمبلۍ په فلور تاسو ته دا وایم چه دوئ د اچانک یو Inspection اوکړی، چه کوم د School time دے، که په دیر بالا کښې دوئ "10 " سکولونه داسے ما ته اوښودل چه دا کھولاؤ وی نو بالکل زه به د دے خپل سیټ نه استعفیٰ ورکړم ځکه چه DEO په خپل دفتر کښې ناست دے۔ د هغه سره جناب، گاډے نشته دے چه هغه د سکول Inspection اوکړی، هغه د سکولونو کارکردگی اوگوری او د هغے وجے نه استاذان خپلے ډیوټئ له نه ځی۔ زمونږه دا Request دے منسټر صاحب ته چه په ټولو کښې ___ دوئ اوس وانی چه مونږه ایجوکیشن طرف ته توجه ورکوو، د خلقو د تعلیم د پاره به کوششونه کوؤ نو که دا کوشش ورسره اوکړی چه په کوم شی باندے Inspection نه وی، هغه کتلے کیږی نه او د سټاف حاضری نه اغستلے کیږی نو هلته کارنه کیږی او د دے نه حالات ډیر زیات خرابیږی۔ ما سیکرټری تعلیم ته دا خبره کړے ده چه ته راشه او زما په علاقه کښې اوگوره که تا په سلو کښې لس سکولونه هم بیا مونده چه دا کھولاؤ دی ___ او د هغے وجوهات دا دی چه د گاډو د وجے نه DEO or SDEO په Inspection باندے نه ځی۔ نو منسټر صاحب به دا گاډی کله ورکړی؟

Mr Speaker Honourable Minister, please

وزیر تعلیم۔ جناب سپیکر صاحب! دا سوال چه کوم اکرم درانی صاحب کړے دے، دا ډیر یو Pertinent سوال دے۔ په دیکښې لږ شانتے زه وضاحت کول غواړمه۔ چونکه یو ټرانسپورټ کمیټی چه کومه په 1987ء کښې جوړه شوے وه، هغوی خپل سفارشات ورکړی وو۔ د هغے سفارشاتو په بنیاد باندے افسرانو ته د گاډو Authorization اوشو چه دا افسران گاډی استعمالولے شی۔ د هغے مطابق باقاعده د هغوی سره گاډی وو۔ د 1987ء نه پس بالا اضلاع نوے

جوړے شوی دی نو پکار خو دا ده او Common sense هم دا وائی چه They should have been given a retrospective effect لکه با الفرض دی - ای - او سوات ته Authorization شسته نو چه شانګله ضلع روستو جوړه شوه یا بونیر ضلع روستو جوړه شوه یا څه بله ضلع روستو جوړه شو ه نو هغه Automatic authorization هغوی ته ملاؤ شی نو دغه Redoptatism هغوی ته، دا نوے ضلعے چه جوړے شوے وے، هغوی ته Authorization ملاؤ نه شو، نو DEOs سره چه ګاډی نشتے نو دا په دے وجه نشته چه د هغوی دا Authorization نشتے او څه DEOs سره چه ګاډی نشته، هغه په دے وجه نشته چه د هغوی هغه ګاډی ډیر زیات زاړه او Condemn شوی دی او هغوی باقاعده د Auction د پاره Surrender کړی دی- کله چه بحیثیت وزیر ما حلف اغستے وو نو ما یو Directive pass کړے وو چه Each DEO. SDEO should tour at least two days in one week هغه غریبانان ناست وو، څه غرنے اونکړو خو چه یو میاشت اوشوه او هیڅ Tour report ما له رانغے نو بیا ما را اوغوښتل چه ولے زما دا آرډرز نه منلے کیږی؟ هغوی اوونیل چه Tours خو به کوؤ خو په څه به نے کوؤ؟ زیاتے ضلعے داسے دی چه د سره یو ګاډے هم شته نه نو Tours به کیږی په څه باندے؟ بیا دا خبره ما د S&GAD سره Take up کړه او بیا مے د چیف منسټر صاحب سره هم Take up کړه او And then I had the Tranasport Committee reconstituted ټرانسپورټ کمیټی ناسته ده- دا کوم ضلعو کښ چه د DEOs سره د ګاډو Authorization نشته چه یو هغه Authorize شی او بل هغه DEOs او SDEOs چه د چا ګاډی Condemn شوی دی نو د هغه Condemn شوو ګاډو Replacement اوشی- نو په دے خبرو باندے ټولو کښ زیات توجه ما ورکړے ده او انشاء الله ډیر زر به د دے ټرانسپورټ کمیټئ رپورټ راشی او بیا In the light of the report of that committee انشاء الله دا ګاډی به دوئ ته فراهم شی څکه چه دا زمونږه یو ډیر لوئے ضرورت دے- کوم ځائے پورے چه د پرائمری DEOs تعلق دے نو د پرائمری هم ټول DEOs سره ګاډی نشته، د هغوی هم داسے حالات دی- د هغوی حالات د دوئ نه څه بهتر نه دی- تقریباً شل ګاډی

د دوئ سره کم دی او تقریباً اته، لس د هغوی سره کم دی۔ بل چه کوم خانے پورے د ضلعے د انتظامیے تعلق دے، طارق سواتی صاحب ضمنی سوال کښې دا خبره اوکړه، واقعی دا یو حقیقت وو چه اے سی، ډی سی به او لګیدو ګاډی به ئے د دوئ Impound کړل او بیا به ئے د خپل کارونو د پاره استعمالولو۔ دا ما DEOs کانفرس را غوښتے وو او هغوی دا یو Complaint اوکړو نو بیا ما باقاعده هغوی ته دا هدایت اوکړو چه د ضلعے انتظامیه چه کله ستاسو ګاډی Impound کوی نو تاسو به باقاعده هغوی ته نه Respond کوئ او د خپل ډائریکټر نه به تپوس کوئ۔ ډائریکټرز نه به هغوی تپوس کوی، If it is a situation of extreme law and order and emergent situation نو بیا خو ظاهره ده، د حکومت هره یوه محکمه چه ده، د هغے هغه Vehicle به استعمالیږی خو دا حقیقت دے چه کوم طاقتور افسران دی نو هغوی دا ګاډی بوخی او په هفتو هفتو، په میاشتو میاشتو د دوئ سره ولاړ وی۔ نو ما دا هدایت اوکړو چه یو DEO ته به هم داسے ګاډی نه ورکوئ او باقاعده د خپل ډائریکټر نه به تپوس کوئ And they are going to be answerable to their directors and none other نجم الدین خان د Absentism خبره اوکړه چه د دیر په ضلع کښې سکولونه بند دی۔ دے خبرے سره هم زما اتفاق دے۔ د دے یوه وجه دا ده چه دے SDEOs او DEOs سره ګاډی نشتے او هغوی دا Constant tours نه شی کولے۔ بله وجه دا ده چه اوس دا نوے Recruitments کیږی، تقریباً محه 4590 آسامیانے به اوس ډکیږی د هغے د پاره مونږ د طریقه دا شروع کړے وه چه کوم د لرے علاقو خلق وو نو مونږ په Vacant posts باندے ټرانسفرز نه Ban lift کړے وو نو هغه لرے لرے خلق چه کوم Relatively urbanize areas نه تعلق ساتو نو د هغوی باقاعده خالی آسامیانو باندے ټرانسفرز شوی دی او لرے علاقو کښې چه کومے آسامیانے اوس خالی دی نو We have come up with policy of localized recruitments انشاء الله په دے میاشت کښې به دا Recruitments کیږی، Advertizement شوے دے۔ د DEOs د Mobilization د وجے نه چه کومه مسئله ده نو هغه خو به مونږ د ټرانسپورټ کمیټئ په ذریعه حل کوؤ او نور چه Lack of staff د

وجه نه مسئله ده نو هغه به انشاء الله مخکښ دے میاشت کښې به دا Recruitments چه کیږی، په هغې باندے به دا مسئله حل شی۔

*جناب اکرم خان درانی*: جناب سپیکر صاحب! دا حقیقت دے چه منسټر صاحب په دے کښې ښه غونډے کار او کوشش اوکړو خو یو خو Request دے جی چه هغه DEOs چه د چا سره زاړه ګاډی وو او هغوی ته هغه قانونی اجازت هم شته چه ګاډی اوساتی، هغې کښې د لږخښے مخکښې د کمیټۍ نه، هغه چه کوم دوئ سره ګاډی شتے، یو خو دا ده چه نوے ضلعے جوړے شولے او د هغې د پاره به یو نوے ډیمانډ وی جی نو د هغې به خوامخواه دوئ اجازت اخلی‌خو یو داسے دی چه لکه زه به د بنوں ضلع یاده کړم چه کومه زما په خیال په دے صوبه کښې زړه ضلع ده نو په هغې کښې هم جی ګاډی نشته دے، که دوئ دومره اوکړی چه دا زړے ضلعے چه د چا کوم DEOs سره دا اختیار شتے چه ګاډی ساتلے شی که د هغې دوئ سپیشل کیس کښې د چیف منسټر نه اجازت واخلی او دا ګاډی فراهم شی او ګاډی هم جی دوئ سره شتے۔ هغه ګاډی چه داسے خرڅیږی جی چه د پینځو لکهو ګاډی وی او په نیلام کښې په درے لکهه خرڅیږی او بیا ګورنمنټ د ایجوکیشن ډیپارټمنټ د پاره بل نوے ګاډے آخلی، هغه په باره لاکهه او په تیره لاکهه وی او دوئ سره اوس هغه ګاډی چه په درے، څلور لکهه خرڅیږی نو هغه ضرورت پرے پوره کیدے شی۔ که دے د هغه ګاډو ډیمانډ اوکړی نو بهتر به وی۔ زمونږ دا هم جی یو ګزارش دے چه دوئ د د پټرولو ګاډی ورته نه آخلی۔ اوس دغه ډی ای اوز پرائمری سره جی د پټرولو جیپان دی، هغه په یو میل باندے دومره خرچه کوی، که دوئ د هغوی د پاره د ډیزلو د ګاډو انتظام اوکړی چه کوم ډی ای اوزدی او لږ ورته مهربانی دا اوکړی چه هغه په دوه حصے کښې کوی، کوم سره چه شتے نو هغوی ته خو تاسو هسے هم ګاډی ورکوئ جی۔

*وزیر تعلیم*: دا احمد حسن خان چه مخکښې پکښې دا کومه خبره اوکړه نو ما د خپل ډیپارټمنټ نه دا تپوس اوکړو چه کله دا Surplus ګاډی Surrender کیدل او دا نیلام کیدل نو هغه وخت کښې تاسو دا خپل ډیمانډ ولے پیش کړے نه وو چه دلته ستاسو دا محکمه Deficient ده په ګاډو کښې او هغه طرف ته دا

Surplus گاډی نیلام کیږی؟ اوس هم څه ایک سو پچاس گاډی لا نیلام شوی نه دی او ولاړ دی، په هغه خانے کښ ولاړ دی، دا کهلاؤ خانے چه دے د سیکریټریټ مخے ته۔ زه Personally تلے ووم چه په دے کښ که څه د کار گاډی وی چه زه د C M نه Special permission واخلمه او چه دا گاډی Re-allocate کړو خو هغه ټول Condemned گاډی دی، یو پکښ هم د کار نشتے۔ انشاء الله د ټرانسپورټ کمیټیٔ ما پرون تپوس کوو نو د هغوی رپورټ Finalize دے او چه کوم گاډی Condemn شوی دی او چه کوم DEOs ته نوے Authorization پکار وی نو دا کار به انشاء الله په یو خانے کوو او امید دے چه ډیر زر به دا مسئله حل شی۔

*جناب فتح محمد خان (وزیر جنگلات)*، یو خبره مے کوله جی۔ احمد حسن خان پکښ اوونیل چه بعضے منسټرانو څلور څلور او پینځه پینځه گاډی استعمالوی د بچو او رشته دارانو د پاره، نو ما ونیل که دویٔ هغه په گوته کړی نو مونږه به اسفندیار باچا ته اووایو چه هغه گاډی خو د منسټرانو نه اول واخلی او که د دویٔ په نظر کښ څوک داسے وی چه هغه خپل رشته دارانو یا خاندان د پاره د د محکمے گاډی استعمالوی -----

*جناب احمد حسن خان*، جناب سپیکر! دا تفصیل خو شاید چه تازه دے خو Privately خبره کوم خکه چه دا اسمبلی ده او زه نه غوارم چه د هغوی پوزیشن خراب کړم خو زه دا خبره هم Appreciate کوم چه بعضے کسانو خپل سرکاری گاډی، بعضے پکښ داسے ښه وزیران شته چه هغوی هغه خپل گاډی هم Surrender کړی دی او په خپل خرچ باندے ډیوټی کوی خو دا هم حقیقت دے چه د بعضو گاډی استعمالیږی، ټولے اسمبلیٔ ته پته ده، جناب۔

*حاجی عبدالرحمان خان*، جناب سپیکر صاحب! ده یوه ټهیک خبره کړے ده۔ په دے صوبه کښ داسے کسان شته چه ورته د یو گاډی ضرورت وی او هغه سره شپږ، شپږ دی۔ د دے تحقیقات کول پکار دی او دا گاډی ترے اغستل پکار دی۔ د دے خرچ چه دے، دا په دے صوبه راځی۔ زما دا تجویز دے چه د نن نه دے له یو کمیټی جوړول پکار دی چه چا سره د یو نه زیات گاډی دی او چه کوم ټائم کښ دے سرکاری کار کوی، په هغه ټائم کښ به ئے استعمالوی او بیا به ئے نه

استعمالوی- زیاتی گاډی دِ دَ هغوی نه واخستے شی، هغه که د هر چا سره وی- که په دے صوبه کښې د وزیر سره وی او یا که د نور چا سره وی نو وا دِ خستے شی-

جناب سپیکر، یره جی، داسے کار دے چه بس، اوس هغه خو اوشو کنه- دا Questions پاتے کیږی- بیانم نشته او نور هم پاتے کیږی-

وزیر تعلیم، یو عرض پکښې ما کوؤ سپیکر صاحب، چه دا بالکل صحیح خبره ده چه کوم وزیر سره د یو گاډی نه زیات گاډی وی نو زه هم ستاسو لاندے پبلک اکاؤنټس کمیټۍ کښې پاتے شوے یم، داسے Issues بیا روستو Thrash out کیږی چه فلانی وزیر سره داسے گاډی وو او د هغے د پیټرولو خرچے پیسے دا Audit objection راغلے دے، نو که په دے باندے یو کمیټی جوړه شی او دا خبره که In letter and spirit implement شی نو د دے نه ښه خبره بله نشته جی-

جناب احمد حسن خان، سر! افسرانو بیا هم بالکل عمل نه دے کړے- افسران هم جناب سپیکر، نن شپږ، شپږ او پینځه، پینځه گاډی استعمالوی- د ډسټرکټ کونسل گاډی استعمالوی، جناب سپیکر- دا داسے یو حقیقت دے چه د دے نه څوک انکار نه شی کولے- په دے کښې تحقیقات کول پکار دی او که حکومت غواړی چه دا شئے کنټرول شی نو دے کښې حکومت له پیشرفت پکار دے چه هغه پکښې راوړاندے شی-

*جناب وجیہہ الزمان (وزیرصحت)، پوائنٹ آف آرڈر۔ سر! بات چل نکلی ہے سرکاری گاڑیوں کے Misuse کی، تو اس میں ایک Proposal میں ایوان کے نوٹس میں لانا چاہتا ہوں کہ یہ ایک صریح حقیقت ہے کہ سرکاری گاڑیوں کا Misuse ہر جگہ پر ہے۔ جہاں ایک گاڑی کی ضرورت ہو، جیساکہ میرے بزرگ عبد الرحمان خان صاحب نے کہا ہے کہ اب ایک کی جگہ چھ، چھ استعمال ہو رہی ہیں اور اس میں کوئی شک نہیں ہے۔ اس کا ایک Solution میرے ذہن میں آتا ہے، اگر ایوان میرے ساتھ اتفاق کرے تو گورنمنٹ سرکاری ملازمین کو Subsidized rates پر گاڑیاں مہیا کر دے Ownership basis پر اور ساتھ ان کو آپ Maintenance allowance اور Travelling allowance وغیرہ*

سب دیں تاکہ وہ گاڑیاں Maintain ہوں اور Misuse نہ ہوں اور اس سے میں سمجھتا ہوں کہ گورنمنٹ پر بہت کم خرچ پڑے گا اور Misuse بھی نہیں ہوں گی اور گاڑیاں بھی Maintain ہوں گی' Pollution بھی کنٹرول ہوگی ہر لحاظ سے تو اس پر اگر ایوان بحث کرنا چاہے۔ Thank you

جناب سپیکر، عبدالرحمان خان! زما خپل دا خیال دے چه د دے خپله سټینډنګ کمیټی شته او سټینډنګ کمیټئ ته تاسو اووایئ چه هغه چیئرمین صاحب نے واخلی او بس دا ټوله خبره پکښ Thrash out شی نو پته به هم اولګی او حل به هم شی۔

حاجی عبدالرحمان خان، ټهیک شوه کنه جی۔ دا ضروری شے دے، دا د قرآن آیات هم دے چه "ان المبذرین کانو اخوان الشیطین" نو مبازرت نه دے پکار۔

جناب احمد حسن خان، دے ګوته سنډوی چه دا بالکل نه شی کیدے۔ جناب سپیکر! دا چل پکښ کوی۔

Mr Speaker Honourable Khurshid Azam Khan, MPA, to please ask his Question No 390

* 390 _ جناب خورشید اعظم خان، کیا وزیر تعلیم از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ۔۔۔

(الف) آیا یہ درست ہے کہ مندرجہ ذیل سکولوں میں پرنسپل اور اساتذہ کی کمی ہے،

(۱) مڈل سکول کنگڑان' (۲) ہائی سکول تکیہ شیخان' (۳) ہائی سکول مکول' (۴) ہائر سیکنڈری سکول لورہ' (۵) ہائی سکول گرھی،

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو آیا حکومت مذکورہ سکولوں میں ہیڈ ماسٹر / پرنسپل اور اساتذہ کی کمی کو پورا کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

میاں گل اسفندیار امیر زیب (وزیر تعلیم)، (الف) جزوی طور پر درست ہے۔

(ب) (۱) پبلک سروس کمیشن نے ستر ہیڈ ماسٹروں کو گریڈ 17 پر تعیناتی کیلئے سفارش کی تھی مگر عدالت عالیہ کے حکم امتناعی کی وجہ سے اس پر عملدرآمد نہ ہو سکا۔ اب چونکہ عدالت نے اجازت دے دی ہے' لہٰذا ان کی تعیناتی جلد کی جارہی ہے۔

(۲) گریڈ 17 سے ۱۸ کے چوہتر پرنسپلز اور گریڈ ۱۸ سے ۱۹ کے چوراسی پرنسپلز کی ترقی کے کیس آخری مراحل میں ہیں اور ان کی تعیناتی بھی جلد کر دی جائے گی۔

(۳) ایس۔ای۔ٹی اساتذہ کے علاوہ باقیماندہ خالی آسامیاں مشتہر کی جا چکی ہیں۔ تمام قانونی لوازمات پورے ہونے پر ساری خالی آسامیوں کو پُر کر دیا جائے گا۔

جناب خورشید اعظم خان، شکریہ۔ جناب سپیکر صاحب! یہ سوال کافی عرصہ پہلے دیا ہوا تھا تو اصل معاملہ یہ ہے کہ جو ادارہ ہو' جہاں پر پرنسپل نہ ہو یا جس ادارے کا سربراہ نہ ہو تو وہ کس طریقے سے چل سکتا ہے؟ انہوں نے جواب میں کہا ہے کہ یہ معاملہ عدالت میں تھا اور ابھی ہم کر رہے ہیں۔ سر! یہ خاص ایجوکیشن کا معاملہ ہے' جہاں پر ہمارے ملک اور قوم کے بچے تعلیم حاصل کرتے ہیں تو مہربانی کرکے ان پرخصوصی توجہ دی جائے تو مہربانی ہوگی۔

جناب نجم الدین، سر! زما ضمنی سوال دے۔ دے جز (ب) کښې که تاسو اوګورئ جی نو سټر کسان پبلک سروس کمیشن Approve کړی دی خو دا به په کوم خانے راځی؟ بیا په سیکنډ (2) جز کښې دوئ دا لیکلی دی چه د 17 نه 18 ګریډ پورے چهتر پرنسپلز او د 18 نه تر 19 پورے چوراسی پرنسپلز، نو دا ټول چه جمع کړئ نو تقریباً څه دو سو هیډز آف دی سکولز چه کوم دی، نو د دوئ پوسټونه خالی دی۔ اوس زه دا عرض کومه چه دوه سوه سکولونه په دے وړه صوبه کښې، په دے پختونخواه کښې، په دے صوبه کښې دوه سوه واړه هانی او هائر سیکنډری سکولونه خالی پراته دی، د هغے پرنسپلز نشتے جی، د هغے انچارج نشتے۔ مونږ خو دا منو چه منسټر صاحب اوس راغلے دے، ډیر په تیزئ سره ئے کار شروع کړے دے او ډیر ښه سړے دے خو د دے هم شپږ میاشتے اوشوے۔ په شپږو میاشتو کښې جی که تاسو دا حساب کتاب اولګوئ چه دوه سوه سکولونه خالی دی، په هغے کښې پرنسپلز او هیډ ماسټران نشتے نو منسټر صاحب به د داسے سی ټی، پی ټی سی، ایس ای ټی استاذانو خالی پوسټونه تر کله پورے ډک کړی او دے سکولونو له به دا استاذان کله ورکوی؟

وزیر تعلیم، جناب سپیکر صاحب! یہ کوئی سٹر ہیڈ ماسٹرز پبلک سروس کمیشن نے Recommend کئے ہیں مگر ہائیکورٹ کا Stay order جو پچھلے مہینے Vacate ہوگیا ہے تو باقاعدہ ابھی ان سٹر کی آج یا کل Approval بھی آ چکی ہوگی چیف منسٹر صاحب سے۔ جہاں تک گریڈ 17 سے 18 تک پروموشن ہے یا 18 سے 19 تک پروموشن ہے تو وہ

باقاعدہ اپنی اپنی آسامیوں پر کام کر رہے ہیں۔ اگر سترہ، اٹھارہ تک پروموشن ہے تو باقاعدہ وہ سترہ میں کام کر رہے ہیں۔ اگر اٹھارہ سے انیس تک پروموشن ہے تو وہ اٹھارہ میں کام کر رہے ہیں تو یہ آسامیاں خالی نہیں ہیں۔ نجم الدین خان صاحب د پارہ به زه دا عرض اوکړم چه دا سوال تقریباً یو کال زوړ دے نو باقاعده ویکنسیانے نے دي، زه تاسو ته خو دا وایمه چه په دے میاشتے کښې تقریباً څه 4800 بهرتیانے به کیږي سوانے د ایس ای ټی نه خکه چه SET are further 1200 posts او په هغے باندے د هانیکورټ نه Stay order دے۔ څنګه چه هغه Stay order vacate شي نو انشاء الله دا بهرتیانے به نے هم شروع شي۔ انشاء الله په دے میاشت یوه نیمه کښې چه د دے دا ټول Clearance راشي نو داسے یو سکول به په دے صوبه کښې نه وي چه کوم به خالي پاتے شي۔ د 17 نه تر 18 پورے او د 18 نه 19 پورے دومره مسئله وي په دے پروموشن کښې چه دا ACRs د یو خانے نه او د بل خانے نه راټولول غواړي نو په دے چوراسي کښې کم از کم چوالیس داسے کسان دي چه د چا لا ACRs هم نه دي Compile شوي۔ څنګه چه دا ټول ACRs compile شي نو په دے میاشت کښې به بهرتیانے کیږي او دا ټول خایونه چه دي، دا به ډک شي۔

جناب خورشید اعظم خان، سپیکر صاحب! یہ جو بات انہوں نے کی ہے، اصل معاملہ یہ ہے کہ میرے حلقے میں، میں نے پانچ سکولوں کی ان کے سامنے نشاندہی کی ہے، اس کے علاوہ بھی سکول ہیں۔ یہ مہربانی کریں، کم از کم دو سکولوں کیلئے تو کوئی Arrange کریں۔ جناب! دو سال تو میرے یہاں ہو گئے ہیں اور اس سے پہلے کے ان سکولوں میں پرنسپل نہیں ہیں تو سر، مہربانی کرکے یہ Assurance دیں کہ جتنا جلدی ہو سکے، دو، چار دن ہمیں دیں کیونکہ جب میں حلقے میں جاتا ہوں تو علاقے کے لوگ یہ کہتے ہیں کہ دو سال تو آپ کے ہو گئے ہیں اور آپ سے پہلے پانچ سال گزر چکے ہیں کہ یہاں پر پرنسپل نہیں ہیں تو مہربانی کریں، یہ انتہائی اہم مسئلہ ہے، تو اسلئے اس پر خصوصی توجہ دیں۔

حاجی عبدالرحمان خان، جناب سپیکر صاحب! دا مسئله په ټولو سکولونو کښې ده۔ پکار دا ده، د وزیر تعلیم صاحب دوه کاله اوشو او په دے انتظار کښې سکولونه، یو خو پکښې ماستران هم کم دي، چه انتظار دے د پبلک سروس کمیشن نو خلق به څه کوي؟ پکار دا ده چه زر تر زره د دے بندوبست اوکړے

شي- Stay order پرے واخستے شو نو ماشومانو بچو څه گناه کړے ده؟ د دے د پاره تاسو څه بندوبست کړے دے؟ زه ستاسو نه دا تپوس کومه- وزیر تعلیم د ما ته اووانی چه ماشومانو د پاره دوئ څه بندوبست اوکړلو؟ چه Stay order واخستے شو نو دوئ به اوس هغوی سره څه کوی؟ بعضے سکولونه دی هغه بالکل بند دی-

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر! په دے کښې زما ضمنی سوال دے-

جناب سپیکر، دا نور بزنس به ستاسو پاتے کیږی خو جی-

جناب اکرم خان درانی، ډیر اهم دے جی-

جناب سپیکر، ستاسو کال اټینشن به هم پاتے کیږی- ډیر زور مو پرون لګولے وو په هاؤس کښې، پرون پاڅیدئ چه زما به خوامخواه راولئ- اوس تاسو انجنټی یئ په دے باندے چه دولس بجے شی، انشاء الله نو Sitting به Adjourn کیږی نو بیا به بهانے یا شکایتونه نه کوئ چه مونږ سره سپیکر دا کار اوکړلو-

جناب عاشق رضا سواتی، سپیکر صاحب! زه به یو منټ اخلم، زیات ټائم به نه اخلم- ما له به ټائم راکوئ جی-

جناب سپیکر، د دوئ نه پس به تاسو خبره اوکړئ-

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر صاحب! محکمه تعلیم دا ضرورت محسوس کړے وو چه په دے کالجونو باندے ډیر زیات بوجھ دے او د پوره صوبے په دیهاتو کښې نے هائر سیکنډری سکولز کهلاؤ کړی دی، د فرسټ ائیر او سیکنډ ائیر کلاسونه دی پکښې- په دیهاتو کښې چه څومره هائر سیکنډری سکولز دی نو په یو سکول کښې هم سائنس کلاسز نشته جی- صرف آرټس کښې چه کوم بچی سبق وائی، هغوی پکښې داخلے اخستے شی او باقی سائنس کښې چه څوک ایډمیشن اخلی نو هغوی په هغے هائر سیکنډری سکولونو کښې ایډمیشن نه شی اخستے- نو که د دے هم زر انتظام څه طریقے سره اوشی چه هغه هائر سیکنډری سکولونو کښې د سائنس ایډمیشن هم دوئ جاری کړی-

جناب سپیکر، جی سواتی صاحب-

جناب عاشق رضا سواتی، مهربانی- سپیکر صاحب! په دے کښې لویه مسئله دا ده

چه د محلورو· پینخو کالو نه چه کوم سکولونه خالي دی· سپیکر صاحب، د محلورو· پینخو کالو نه چه دا کوم سکولونه بغیر د پرنسپله دی نو د دے یو وجه دا ده چه کوم سکولونه په غریبزے علاقه کښې دی· هغے ته محوک خی نه او کوم چه په ښارونو کښې دی یا په Plain area کښې دی· زه خو دا وایمه چه پبلک سروس کمیشن که اجازت ورکړے دے نو وزیر صاحب ته ستاسو په وساطت دا وایمه چه د حلقے د ایم پی اے نه د تپوس اوکړی او د هغوی د مشورے سره د هغه سکولونو چه کوم په غریبزو علاقو کښې دی، د پاره د مخکښې دا پرنسپلان راکړی چه د هغوی دا دیرینه مطالبه پوره شي۔

جناب *شیر زمان شیر*۔ جناب سپیکر صاحب! زمونږه خو سمه علاقه ده، هغه غریبزه نه ده او په هغے کښې هم نشته۔

جناب *سپیکر*۔ شیر زمان خان! تاسو نه مخکښې سلیم خان پاڅیدلے وو چه دوئ خبره اوکړی نو بیا تاسو خبره اوکړئ۔

*(تالیاں)*

جناب *سلیم سیف اللّٰه خان*، زه د فرید خان ډیره شکریه ادا کومه چه میز ئے ډیر اوډبولو۔ ما صرف دا مسئله، قیصے خو ډیرے اوشوے خو اجتماعی د هر ممبر په حلقے کښې او بار بار د دے شی وضاحت هر یو ممبر اوکړو چه سکولونه او کالجونه جوړ دی او هغه کهلاویږی نه، نو زما صرف وزیر صاحب ته دا گزارش دے چه په پنجاب کښې، هلته د Ghost schools د پاره یو Operation حکومت پنجاب کړے دے، په هغے کښې وانی چه ډیر داسے سکولونه وو چه هغه صرف په کاغذونو کښې وو یا ډیر داسے پوستونه وو چه هغوی تنخواګانے اخستے خو کار ئے نه وو۔ نو آیا دوئ هم که دلته په دے صوبه کښې که آرمی ته دا شے حواله کړی چه هغوی دے خانے کښې هم داسے یوه کارروائی اوکړی· کیدے شی چه ډیر داسے اضافی پوستونه وی چه هغه رااوخی او چه کوم Genuine وی نو هلته به بیا هغه کسان بوتلے شي۔ دا زما یو تجویز دے۔

جناب *سپیکر*، جی شیر زمان شیر صاحب۔

جناب *شیر زمان شیر*، جناب سپیکر صاحب! سواتی صاحب اوونیل چه په غریبزه علاقه کښې نشته، زمونږه خو سمه علاقه ده چه ډیرے پکښې هم نشته دے، په هغے کښې هم نشته- پرون مے منسټر صاحب له د سوشل ویلفیئر والو یو درخواست رالیږلے وو، په گرلز هائی سکول کښې صرف دوه استاذانے دی. صرف دوه استاذانے دی او شپږ میاشتے اوشوے، نور سټاف هډو نشته دے- دغه شان د نورو سکولونو حالت هم دے- دا یو گهمبیر مسئله ده- دے ته توجه ورکول غواړی- د غر مسئله نه ده، د سمے مسئله هم ده-

جناب *محمد ہاشم خان (دیر)*، سپیکر صاحب! دا خورشید اعظم صاحب چه کوم سوال کړے دے نو دا ډیر اهم سوال دے او دغه شان مسئله، د نجم الدین خان او د دے ټولو یوه مسئله ده- زما په علاقه کښې تقریباً اوولس سکولونه خالی پراته دی او روزانه مونږه محکمے او منسټر صاحب ته درخواستونه کوؤ خو د استاذانو هم دغه شان قیصه ده او سکولونه بند پراته دی جی- نو مهربانی اوکړئ، دے ته خصوصی توجه ورکړئ-

جناب *توفیق محمد خان*، محترم سپیکر صاحب! څنگه چه سلیم خان اوونیل نو دا ډیره اهمه مسئله ده او منسټر صاحب مونږ سره په تیر سیشن کښې وعده کړے وه چه ستاسو به یو میټنگ کیدو او دا خو تقریباً اکیس سکولونه زما په علاقه کښې دی چه په هغے کښې هډو د سره څوک شته نه- د جینکو سیکنډری سکول دے د بابوزو، واورئ جی یوه استاذه ده پکښې، یوه استاذه د بابوزو په مډل سکول کښې ده- داسے هائی سیکنډری سکولونه هم شته چه په هغے کښې استاذانے هډو د سره شته نه- دا ډیره لویه او اهمه مسئله ده- د دے انتظام پکار دے ځکه چه بچی تباه شو- دا سبا بله ورځ د امتحانونو ورځے دی او استاذان نشته نو دا څومره د افسوس خبره ده-

*بیگم نسیم ولی خان*، محترم سپیکر صاحب! نه، زه ضمنی سوال نه کومه، زه د مسئلے حل راوباسمه- خبره دا ده چه یوه مسئله په ټوله صوبه کښې ده، پکار دا ده چه وزیر صاحب اودریږی او هغوی دا اووائی چه یو Uniform policy به جوړه کړو چه کوم ځائے کښې سکولونه دی، هائر سیکنډری سکولز -Up

grade شوی دی یا کالج جوړ شوے دے، هغه څومره چه دی، هغه به مخے ته کیږدو او په هغے کښې به د استاذانو تعین اوکړو، که پروفیسران دی، که پرنسپلان دی او که استاذان دی۔ که دا خبره زما خیال دے وزیر صاحب اوکړی نو دا ټول ملګری به مطمئن شی او یو یو کس به نه پاتې کیږی۔ ما ضمنی سوال نه دے کړے ګنی نو زما حلقه هم داسے پرته ده خو سوال نه کومه۔

جناب سپیکر، بی بی! دا خبره ستاسو بالکل ټهیک ده خو که زرخله هم دوئ دا خبره اوکړی نو دوئ به خپله خبره کوی۔ اوګورئ هغه دے، تاسو اوونیل هم او بیا یو پاڅیدلو۔ جی، آپ فرمائیں۔

جناب سرنګزیب، جی دا خورشید اعظم صاحب چه کوم سوال کړے دے، دا یو اهم سوال وو۔ دغه شان زما په حلقه کوهستان کښې هانی سیکنډری سکول دے او په هغے کښې د سره یو ماسټر هم نشته۔ د هغے د پاره مخکښې هم ما سوال کړےوو، نورو سکولونو کښې هم ماسټران نشته۔

Mr Speaker Honourable Minister, please

وزیرتعلیم، جناب سپیکر صاحب! لکه ما چه څنګه مخکښې اوونیل نو په دے میاشت کښې تقریباً چار هزار، آټه سو بهرتیانے به کیږی په میرټ باندے۔ باقاعده ایډورټائز شوی دی، ماسوانے د ایس ای ټی ټیچرز چه کوم باندے په هانیکورټ کښې Stay order دے۔ په هانیکورټ کښې چه کوم Stay order دے نو هغه هم څه عجیبه شانتے Stay order دے څکه چه د هغے ایس-ای-ټی ټیچرز یو څو میاشتے مخکښې انټرویوز شوی وو او د هغے قانون دا دے چه انټرویو اوشی او په هغے باندے تعیناتی شپږ میاشتے کښې اونشی نو هغه Interviews invalid شی، نو د هغے انټرویو شپږ میاشتے تیرے شوی هم دی نو هغه که باالفرض High Court decides this way or the other. نو هغه خو هسے هم Null and void دی۔ مونږه خپل کوشش شروع کړے دے چه په هغے کښې تاریخ لږ زر رااوخی او چه په هغے کښې ورته مونږ دا خبره اوکړو که تاسو باالفرض Stay ورکوئ او که نه ورکوئ خو دا شپږ میاشتے په هغے باندے تیرے شوی دی، هغه هسے هم Null and void شوی دی۔ نو ماسوانے

دا دولس سوه ایس-ای-ټی پوسټونه، نور ټول پوسټونه به په دے میاشت کښی دک شی انشاء اللهٔ، د Interviews process روان دے او دا کوم ځائے چه څلور زره او آته سوه پوسټونه خالی وی نو ظاهره ده، په هر یو علاقے کښی به څه نه څه سکولونو کښی خایونه خالی وي خو انشاء الله د دے مسئلے حل به ډیر زر مونږه راوباسو- بل سلیم سیف الله خان یوه ډیره ښه خبره اوکړله چه په پنجاب کښی یو Operation شوے وو د ghost schools regarding Army نو هغه Exercise مونږه دلته په صوبه سرحد کښی هم Undertake کوؤ او In the middle of April به هغه Exercise کیږی- د هغے Exercise مقصد دا دے چه واقعی دلته، دے DFID او دے خپل پرائمری ایجوکیشن پروګرام باندے هم مونږه سروے کړے ده او تقریباً درے زره سکولونه مونږه Ghost قرار کړی دی- په هغے درے زره کښی صرف دا نه دی چه صرف په کاغذونو کښی سکولونه موجود دی او اصل کښی موجود نشته خو هغه سکولونه چه په کومو کښی استاذان نشته، هغه سکولونه چه په کومو کښی ټیچران نشته، هغه سکولونه چه کوم ځائے کښی یو سکول شته او بل سکول ورته په یو څو قدمه فاصلے کښی دے- بحرحال آرمی چه کوم آپریشن اوکړی نو د هغے په وجه باندے به مونږ ته څه Exact data راشی او هغه Data چه ده، زمونږه خیال دا دے چه مونږه ایجوکیشن ډیپارټمنټ ټول په ډسټرکټ لیول، سب ډویژن لیول، ډائریکټوریټ لیول او سیکرټریټ لیول باندے Computerise کړو نو هغه Data به مونږه استعمال کړو او دا ډیپارټمنټ چه Computerise شی نو د دے منیجمنټ به نسبتاً ډیر بهتر شی- نور سټاف چه د چار هزار، آټه سو کسانو کیے دے، نو ظاهره ده، هر ځائے کښی به، زما په خپله حلقه کښی داسے سکولونه دی چه په کوم کښی پوسټونه Sanction شوی دی خو استاذان نشته او انشاء الله دا انټرویوز چه اوشی نو زر به د هغے تعیناتیانے شروع شی-

جناب بشیر احمد بلور، په پوائنټ آف آرډر باندے سپیکر صاحب دا عرض لرم، منسټر صاحب اوونیل چه ما یو Data collect کړے ده او په هغے کښی درے زره Ghost سکولونه ملاؤ شوی دی او بیا ئے ورسره دا خبره هم اوکړه چه په اپریل کښی ئے مونږه آرمی ته حواله کوؤ، نو مطلب دا دے چه منسټر

صاحب پخپله فیل شولو، د دوئ دا ډیپارټمنټ فیل شو او د دوئ دا کارکردګی دومره بنه نه ده چه دوئ پخپله باندے دا ټول هر څه اوکړی او چه بیا ئے آرمی ته حواله کوی نو دے د دا مونږ ته اووائی کنه چه دے پخپله فیل شو خکه ئے دے آرمی حواله کوی او حکومت په خپلو ټولو کارونو کښ فیل شو۔ دا آرمی چه هر یو ډیپارټمنټ ته راخی نو بیا پکار ده چه دا حکومت هم آرمی ته حواله شی چه حکومت هم ټهیک شی، کرپشن هم ختم شی او د نادهندګانو نه پیسے هم واخلی۔ چه هر څه آرمی کوی نو بیا پولیټیکل خلق څه کوی؟ پکار دا ده چه وزیر صاحب د پخپله Stand واخلی او پخپله د خبره اوکړی، خپل ډیپارټمنټ د پخپله سنهبال کړی۔

جناب سپیکر، خدجی، اورنګزیب خان۔ تاسو بیا جوانټ جواب ورکړئ۔

